پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»

-----------------------------

## دپښتون غورځنګ له تحفظ څخه ملاتړ
## د هرآزادی غوښتونکي افغا ن نه سترې
## کیدونکي ملی وجیبه دي

له هغی ورځی چي انګلیس په افغانستان کي دآزادی غوښتونکو افغا نا نو په ضد استعماری پاڅون سره په دری پرله پسي جګړو کی شرمونکی ما تي وخوړل اوپه ډیر ناهیلي اوسرتیټی څخه له دغه هیواد څخه پښی سپکي کړي اودنړی په هنداره کي رسوا اوبدنامه شوی نو بیا له همغه وخت څخه دانګلیس دغچ اودانتقام په تنور کی دافغانستان اودپښتنو دتوری اودمیړانی په مقابل کي اور نه دی مړه شوی اودهری ورځی په تیریدو سره د پښتنو په سیمو کی دخپل حرامزاده ځوی پاکستان پواسطه سره حالات خرپړ کوي




اوپه توطیو اود سیسو لاس پوری کوي . د ګوډاګي اودانګلیس له ګیډی څخه راوتلی کرغیړن پاکستان درازیږیدو څخه لا د مخه لمړي دښمنی چي انګریزانو د پښتون قوم اود افغانستان سره ترسره کړ هغه دډیورند دکرښی را ایستل د پښتونو تر مینځ وه کوم چی یو ورور له بل ورور څخه بیل کړي ترهغه ځایه پوری چي د دی منحوس تحمیل شوی کرښی یو ورور دکرښی دی غاړه اوبل ورور دکرښی په هغه غاړه کی سربیل کړ یاداچی مشترک جومات دکرښی په هغه غاړه او ژرنده د کرښی په دی غاړه کی

پاتې شو اودخپل شوم نیت او انګلیسی کړنه نړیوالو ته ښکا ره کړ ــ اما دغه تحمیلی کرښه ونتوانیدل چې دکرښې دی غاړې اود هغه غا ړې قوموونه او پښتا نه سره بیل کړی اوکه دتاریخ پاڼې ته وکتل شي پښتا نه هم آرام کیننا ستید ل اودخپل غچ ودانتقام په لټه کې شو تر هغه پورې چې پښتا نه دافغان انګلیس په دریمه جګړه کې انګریزانو ته داسې ما تې ورکړ چې تاریخ به هیڅکله دانګریزانو ما تې د پښتون پواسطه سره هیره نکړی لکه هغسې چې په ځا نګړې بڼې سره د« تل» اود« وانې » پښتا نه د نورو ټولو پښتنو سره انګلستان دی ته مجبور کړی چې دافغانستان استقلال په رسمیت سره وپیژنی او دخپل استعما ری کمپله د نړی له دی برخې څخه را ټول کړی اوپه سر ټیټې سره له دغه سیمې څخه پښې سپکې کړی اما دخندا وړخبره خو دادی چې پاکستا نیان دا دانګریز ناقص العقل او ایجیرا ( نرښځي) زامنو په ډیره بې شرمی سره ددیورند دکرښې څخه دهغه غاړی پرځمکو باندی خیټې اچولی اوپه ډیره سپین سترګي سره داسې ادعا کوی چې دغه سیمه ځما د غیر مشروع پلار څخه دهند او د پاکستان د پارتیشن له وختنه څخه را وروسته په میراث را پا تې شوی دي نو ددی دپاره چې دغه سیمه ترخپل بشپړ ولکې لاندې راوړی نو دهمدی هدف له مخې کله دکرښې په هغه غاړه کې لکه دګونګوټې په بڼه سره خندوقونه باسی اوکله دکرښې په امتداد کې اغزن سیمیان لګوی ، کله غواړی چې د کرښې څخه دی غاړی ته واوړی اوکله هم ددی د پاره چې د کرښې د دواړوخوا پښتا نه سره په جنګ او جګړه کې ښکیل کړی نو دکرښې دهغې غاړی څخه د افغانستان په ځتیځو سیمو اوبیا په ځانګړې بڼې سره دکونړ دولایت ددانګام په منطقه کې د توپونو اود ټانکونو ګذارونه کوی .

همدارنګه له دی نه چې دافغانستان جګړه ګرمه وسا تې اودخپل غیر مشروع انګریزی پلارمشوری اونصیحتونه پر ځای کړي نوپه قبایلی سیموکې دطالبانو دروزنې اودجګړی دمهارتونو دزده کړی دپاره بارکونو او چو نې جوړ کړی او یا دا نه چې دلته یوازې دافغانی طا لبا نو دپاره پټنځا یونه برابرکړی اویا طالبان یې دی سیمې ته راوستی بلکه دنړی ټول بد ماشا ن ، کانګستران ، قا تلان او جګړه غوښتونکې افراطی ډلې ټپلې داعشیان ، دالقاعده دسازمان سړی وژونکې ډلې او ...... ځای پرځای کړي دی کوم چې پا کستان د خپل دغه کړنې په بدل کې له خپل انګریزی او امریکا یې بادارانو څخه پیسې تر لاسه کړي .

اما بیخبرله دی نه چې دغه سیمه دپښتنو سیمه دی اودلته دهمغه پښتنونو بچیان اوسیږی کوم چې انګریزان یعنې دپاکستان غیرمشروع پلار ته غا ښ ما تونکې ګذ ارونه ورکړ او هغوی یې له دی سیمې څخه وویستل کوم چې دنړی په تاریخ کې په زرین کرښه لیکل شوی چې پښتا نه هغه یواځنی آزادی غوښتونکې قوم دی کوم چې د لمړی ځل د پاره دانګریز داستعما ر کړی پخپل منطقه کې ما ت او خپل استقلال تر لاسه کړ ــ نو دهمدی لنډ تا ریخی یادونې سره آیا پنجا بې پاکستا نیا ن ددی توان لرلی شی چې خپل ظلمونه

پر پښتا نه با ندی جاری وسا تی ؟ داهغه پوښتنه دی چي پا کستا نیا نو اوس دهغه سره مخامخ شوی دی اوهغه داچی په دی سیمه کی ټول پشتانه له لر اوبر څخه د« **پښتون منظور**» تر مشری لاندی سره ټول شوی اودآزادی غږ یی را پورته کړی کوم چی اوس دهغوی ټول قا نونی ِغوښتنی د نړی په مید یا کی هم دچا پید لو اود خپرید و چا نس هم ترلاسه کړی چی یوله دی غربی مید یا څخه په هالیند کی د« تراوو Trouw» پرتیراژ ورځپا نه دی چی د می د میا شتی په دریم نیټه د(12) او(13) مخونو کی یو مقا له تر دی لاندی عنوان لاندی خپورر کړی (Verzettegen Pakidtaanse Generaals) چي دغه مقا له د (سیف قاضی زاده) پواسطه سره په دری ژبه ژباړه شوی -( **قیا م مردمی : خطر قیام پشتونها دربرابر نظامیان قدرتمند پاکستانی**) چی تاسی کولای شی دغه مقاله د افغان جرمن آنلاین د مقالو د تحلیل په ردیف کی ولولی !




یا داچی همدغه مقا له چی اوس ځما له خوا له انګریزی ژبی څخه په پښتو ترجمه کیږی او همداسی په ډیرو نورو سا یټونو کی ددغه مرد می پاڅون څخه زیات یادونی شوی دی کوم چی اوس دغه غورځنګ ځانته یو بین المللی موقف تر لاسه کړی او د پښتنو تول مطا لبا ت قانونی او شرعی غوښتنی دی چی اوس پاکستا نیان دیو لوی

ستونزی سره مخا مخ شوی دی او له دی نه چي ددغه ستونزي څخه ځان خلاص کړی نو همغه دی چی غواړی د نام نهاد دیورند د کرښی دواړه خوا پښتا نه سره په جنګ اخته کړی نو په ډیر غیر مسولانه توګه سره د دیورند د کرښی له هغه غا ړي څخه پر کونړ با ندی د راکټونو اود توپونو ډزی کوي.
او هم دلته په کابل کی دخپل اجیرانو اودجاسوسانو پواسطه سره دافغانانو په مینځ کی اختلافاتو ته لمن وهی اویا دانتحاریانو پواسطه سره افغانان وژنی اودبلی خواڅخه دایران اودروسی سره په ایتلاف کی طالبانوسره دهغو دملاتړ زمینه برابروی اودخپل شیطانی چال چلند په پام کی نیولو سره ایران پوری تړلی افغانی جاسوسان لکه دشمال ټلوالی او په هغه کی لوی ایرانی جاسوس عبدالله عبدالله او لطیف پدرام ته دنده ور سپارلی دی چی دافغانی تذکیرو دتوزیع په مقابل کی ستونزی رامینځته کړی کوم چی هغوی نه غواړی چي دهغوی دحامیانو په تذکیرو کی د(افغان ) کلمه ولیکل شی اودا له دی کبله که چیری ددیورند دکرښی ددی غاړی اودهغی غاړی پښتانه که سره یوځای شی نو دوی په اقلیت کي پا تی کیږی نو دهمدی اصل په نظرکی نیولو سره دهغو د توطیوو اود سیسو تناره ډیر ګرمه شوی دی او په دی وختونو کی دا فغا نستا ن په د ننه کی د تاجک اود پښتون داختلافاتوروند ته پکي وهي چی اوس ټول اصیل افغانان دهغو په دی خام سیا ست باندی پوهیدلی او هغوی په ریښتیا سره خا رجی معا ش خور جا سوسا ن دی.
اوداځکه چي هروخت په دی هیواد کی یوه مثبته خوزښت رامینځته شوی نو دغه خارجی لاس پوڅی دژبی اودقوم مسله رامینځته کړی او افغانان بی اتفاقی خواته ور ټیل وهلی دی ُ څکه چی ددوی سرشت او ددوی خته کی خیانت اومعامله حک شوی دی لکه همغسی چی ددوی رهبر« برهان الدین ربانی» دخپل زمامداری په وخت کی پرپاکستان باندی دافغانستان داردو ټول شتمنی بی له کوم پا نګی په تر لاسه کولو سره ورتسلیم کړ او دافغانستان پوخ یی دړی وړی کړ کوم چی د هغه ا سناد د یو بهرنی لیکوال پواسطه سره دهغه په (طلایی کتاب» کی په ډاګه شوی چی **دنوازشریف** سره دافغانستان دپوځ ړنګید ل لاس لیک کوی تا سی کولای شی چی دغه طلای کتاب دهغه بهرنی لیکول وګوری تر څو چي مو اطمیا ن را حاصل شی .
اوس هر څوک په دی باندی پوهیږی چی د( پښتون د تحفظ د غورځنګ ټول خواستی او مطالبات که ترلاسه شی طبعاً په افغا نستان کی دسولی او ثبا ت د پاره لاره آوریږی اوداځکه چی په وزیرستان اویا د دیورند د کرښی په هغه غاړه کی د تروریستانو اود طالبانو پټنځایونه له مینځه ځی اودهغو دپټنځا یونو د دړی وړی کید و له امله دلته په افغانستان کی دهغو دحملاتو څخه خلک په امن کی پا تی کیږی چی داپخپله د افغانستا ن د دشمنا نو طرحی او نقشه له مینځه وړی او په ا فغا نستا ن کی دسولی فضا رامینځته کیږی – نو آیا د دی پورتنیو ټکو په یادولو سره دا به دهر افغان ملی وجیبه نه وی چی باید د پښتنو دغورځنګ له تحفظ څخه په کلکه ملاتړ وکړی. هوکی دا دهرافغا ن دنده

دی چې دخپل حاکمیت دپاره هلی ځلی وکړي او له دی سیمی څخه ټول یاغیان اواستعمار ګران او خارجی قوتونه اوباسی .

***ژوند اوبریا لی اوسی د پښتنو د تحفظ غورځنګ .***

***مړ او برباد دی وی د پښتنو دښمنان***

*****

وروڼه نشی سره څوک بیلولي

غوښی نوک سره وی ډیر ټینګ تړلي

کوز اوبر افغا نا ن ټول دی سره وروڼه

یوه ژبه یو فرهنګ ګډ یي دودونه

په خوښیو په غمونو کی شریک ټول

یو د بل سره خواخوږ.ی اونزدیک ټول

په ماتم کی غمجن په خوښیوکی خوشحال

په ختیځ په ولویدیځ په جنوب اوشما ل

اوبو هیڅکله په ډانګ نه بیلیږ.ي

دی خبری باندی هر څوک اوس پو هیږ.ي

څوک په جنګ پښتا نه نشي ماتولي

د پښتون ما ت تاریخ نه دی هیڅ لیکلي

غلیما نو په چلول پښتون بیل کړي

یا قومونه په نفا ق سره اچولی

بیا چي کله افغا نا ن سره یوه شوي

د دښمن په کور بیا اور لګولی

ته ناپوه حرامی ځوي د انګریزانو

ستا د رږیری په هر تار کي ځړوند شیطان

اوس ستا د ورکیدو وخت رسیدلی

پښتنو له لرو برو را ټول شوي

نن سبا به دی لمر د غره تر شا شی

کرغیړن مخ دی به ټولو ته رسوا شي

(مله) زیری می درباندی افغانان سره یو شوی

په لندن او واشنګټن کی غلیمانو لړزیدلی

**** جرمنی 08-05-2018